

1 برخه: پېژندنه

# د میرمنو روغتیایی معاینات

«د ښځو روغتیايي معاینه» ستاسې میرمنو او د کورنۍ د نورو ښځینه غړیو عمومي روغتیا ته کتنې لپاره یو ښه فرصت دی.

«د ښځو روغتیايي معاینه» ستاسې میرمنو او د کورنۍ د نورو ښځینه غړیو عمومي روغتیا ته کتنې لپاره یو ښه فرصت دی.

**«د ښځو روغتیايي معاینه» ستاسې میرمنو او د کورنۍ د نورو ښځینه غړیو عمومي روغتیا ته کتنې لپاره یو ښه فرصت دی.**

په دې کې فزیکي روغتیا، رواني روغتیا او ټولنیز وضعیت شامل دي .

په دې کې فزیکي روغتیا، رواني روغتیا او ټولنیز وضعیت شامل دي.

**«د ښځو روغتیایي معاینه» ستاسې میرمنو او د کورنۍ د نورو ښځینه غړیو عمومي روغتیا ته کتنې لپاره یو ښه فرصت دی.**

په دې کې فزیکي روغتیا، رواني روغتیا او ټولنیز وضعیت شامل دي .

د ښځو په روغتیایي معایناتو کې ستاسو د میرمنې قد او وزن ، د وینې فشار، د نبض معاینه ، واکسینونو او نور داسې معاینات چې اړتیا لیدل کیږي، شامل دي.

د ښځو په روغتیایي معایناتو کې ستاسو د میرمنې قد او وزن ، د وینې فشار، د نبض معاینه ، واکسینونو او نور داسې معاینات چې ورته اړتیا لیدل کیږي، شامل دي.

**په دې معايناتو کې معمولا درې شيان شامل وي:**

1. د سينې معاينه
2. د حوصلې معاينه
3. د پاپ ازموينه

په دې معايناتو کې معمولا درې شيان شامل وي: د سينې معاينه، د حوصلې معاينه ، او د پاپ ازموينه




د امريکا په متحده ايالاتو کې، د ډاکټرانو وړانديز دا دی چې هر هغه ميرمن چې عمر يې ۲۱ کلنۍ ته ورسيږي او جنسي اړيکې پيل کړي، بايد د "ښځو روغتيايي معاينې" پيل کړي.

دا ازموينه کيدای شي د هغه څخه
توپير ولري چې په افغانستان کې وړانديز
شوي يا ترسره کيږي.



کېدای شی چې په افغانستان کې د ډاکټرانو وړانديز د امريکا له متحده آيالاتو سره توپير ولري. د دې دليل دا دی چې ، په متحده ايالاتو کې ډاکټران دا وړانديز د ټولو ميرمنو لپاره کوي ، که دوی په جنسي توګه فعال وي يا نه

**د میرمنو روغتیایی معاینات کولی شي ژر تر ژره هغه ناروغۍ وپیژني چې په اسانۍ سره درملنه یا اداره کیدی شي.**

ځکه چې دا ازمویني کولای شي روغتیایی ستونزې ژر تر ژره تشخیص کړي، په داسی حلت کی چې درملنه یې اسانه وي.

**په دې معایناتو کې د ښځو او انجونو لپاره خصوصي ځای چمتو کیږي ترڅو له خپل ډاکټر څخه د میرمنو روغتیا پورې اړوند اندیښنو په اړه پوښتنې وکړي، لکه:**

- غیرنورمال میاشتني عادتونه
- د مزاج بدلون
- د حیض پرمهال شدید درد
- د کورنۍ تنظیم پلانونه
- نورې روغتیایي اندېښنې

دا معاینات نه یوازې هغه وخت ترسره کیږي کله چې ستاسو میرمن روغتیایي ستونزه ولري بلکې، دا معاینات په منظم ډول ستاسو د میرمنې عمومي روغتیا ارزوي.

په دې معایناتو کې ستاسې میرمنو او د کورنۍ نورو ښځینه غړیو لپاره شخصي ځای هم چمتو کیږي ترڅو د هر ډول اندیښنو په اړه له خپل ډاکټر سره خبرې وکړي او یا هم د میرمنو د روغتیایي حالت په اړه پوښتنې وکړي چې په هغه کې د حیض ناروغۍ او یا د وینې جریان ، د مزاج بدلون ، د حیض پرمهال شدید دردونه ، د کورنۍ تنظیم پلانونه او نور روغتیایی اندیښنې شامل دي.

د افغان میرمنو لپاره چې پدې وروستیو کې متحده ایالاتو ته رسیدلي ترڅو پوه شي چې دوی د میرمنو د روغتیا معاینې پرمهال څه تمه کولی شي.

دا ویډیو ګانې درې برخې لري. او د هغو افغانو ښځو لپاره ده چې نوې د امریکا متحده ایالاتو ته راغلي دي.
په دې ویډیوګانو کې د هغه مهمو شیانو په اړه معلومات ذکر شوي دي چې؛ ستاسې له میرمنو سره به « د ښځو د روغتیایي معاینې» په وخت کې شریک کیږی.




په لومړۍ ویډیو کې به تاسو د هغو متخصصینو سره آشنا شئ څوک چې ستاسو د میرمنو لپاره دا معاینات اداره کوي. هغوی به ستاسو له مېرمنو سره د روغتیایي پاملرنې په کیدو کې مرسته وکړي




په دوهمه ویډیو کې به تاسو د امریکا د متحده ایالاتو د هغو روغتیایي حقوقو په اړه معلومات تر لاسه کړی چې ستاسې میرمنې ورته لاس رسی لري. په دې ویډیو کې ځینې نور داسی معلومات شته چې له تاسو سره به د ډاکټر د ملاقات په سمه توګه پرمخ وړلو کې مرسته وکړي.




په درېمه ویډیو کې به تاسو ته هغه ټول معلومات تشریح شي چې «د ښځو روغتیایي معاینې» پرمهال څه تر سره کېږي.




راځئ چې پیل یې کړو!

د امریکا په متحده ایالاتو کې د میرمنو لپاره طبي خدمات د مختلفو طبي متخصصینو لخوا چمتو کیږي. دا ټول طبي متخصصین که څه هم د ښځو د روغتیا د اساسي مواردو په اړه پوره پوهه لري، خو بیا هم هر یو یې په یوه مشخصه برخه کې ځانګړی تخصص لري. روغتیایي اړتیاوو ته په کتو سره، ښځې کولای شي چې لاندنیو یوه یا څو طبي متخصصینو ته مراجعه وکړي او مشوره تر لاسه کړي.




دا عمومي معالج، فاميلي ډاکتر، داخله ډاکتر يا (Primary Care Physicians, PCPs) يا د لومړنی پاملرنې ډاکتران د ماشومانو د ډاکتر په نوم هم پېژندل کېږي. دوی د هر عمر لرونکو خلکو د ناروغيو درملنه کوي. د ښځو روغتيايي معاينات هم د همدغه ډاکترانو لخوا تر سره کيږی.




«OB/GYN»

OB/GYN د چې (Obstetrician ولادي ډاکتر/ Gynecologists نسايي ډاکتر) لنډيز دی.
ولادي ډاکترهغه ډاکتر دی چې د امېندوارۍ او زېږون پرمهال د ښځو او ماشومانو پاملرنه  کوي.




نسايي ډاکترهغه ډاکتر دی چې د اميندوارۍ پرته د ميرمنو ځانګړي ناروغيو په درملنه کې تخصص لري.
په دې برخه کې اکثريت ډاکتران دا دواړه دندې پر مخ وړي
د امله له همدې OB/GYN په نوم يادېږي.




OB/GYN ډاکتران له تنکۍ ځوانۍ تر لوی عمر میرمنې چې میاشتنی عادت یې بند شوی وی، د ټولو درملنه کوي




متخصصې نرسانې - هغو نرسانو ته ویل کېږي چې په خپل مسلک کې یې د تخصص تر کچې پورې لوړې زده کړې کړې او عالي ډیپلومونه یې تر لاسه کړي وي.
هغوی وقایوي پاملرنی وړاندې کوي، د ناروغیو تشخیص او د هغو کسانو درملنه کوي چې دوی ته مراجعه کوي.
هغوی په خپلواکه توګه یا له ډاکترانو سره یو ځای روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي.




قابله – قابلې د امیندوارو ښځو درملنه، د ماشوم زیږون پر مهال، د نوي زیږیدلي ماشوم پاملرنه او د زیږون وروسته د میندو روغتیا ته پاملرنه کوي. قابلې معمولا ډاکترانې نه وي، که څه هم ځینې نرسانې وي.
قابلې کولی شي د نسایی او ولادي ډاکترانو (OB/GYNS) سره یو ځای او یا هم پخپله کار وکړي.

## د لا نورو معلوماتو لپاره

2

**2 ویډیو: د ناروغانو حقوق**

په دوهمه ویډیو کې به تاسو د امریکا د
متحده ایالاتو د هغو روغتیایي حقوقو په اړه
معلومات تر لاسه کړئ چې ستاسې
میرمنې ورته لاس رسی لري.

تاسو کولای شئ د امریکا په متحده ایالاتو کې له بېلابېلو روغتیایي مسلک کار کوونکو څخه درملنه تر لاسه کړئ. په متحده ایالاتو کې هر څوک روغتیایي حقوق لري.
د ناروغ د روغتیایي حقوقو په اړه د لا زیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره د دې برنامې دویمه ویډیو وګورئ.




او په دریمه ویډیو کې به تاسو ته هغه ټول معلومات تشریح شي چې «د ښځو روغتیایي معاینې» پرمهال څه تر سره کیږي.

د ویډیو کتلو نه مو مننه او خدای په امان!